مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال

۲۰۲۶/۰۹/۱۸

# غوراصلي اوسېدونکي،

## (ترکان،پښتانه که تاجکان)

### ۱برخه

ښايي داسي پوښتنه راپيدا شي، چي «غور» ولي دومره موهم دی، چي تر څانګړی سرليک لاندي پرې ليکنه کېږي؟ داپوښتنه تريوځايه د پام وړده،لومړی داچي د زکرشوي سرليک لاندې يوشمېرمحقيقينوليکني کړي دي اويودبل پسي د لاسوندونواوريفرنسونواوړد نوملړوړاندي کړی دی،چي د غوراصلي اوسېدونکي څوک وو... ؟ خوکله چي ما داتولي ليکني له پامه تېري کړې،دغوکسانودهغولاسوندونويادونه کړي چي د دوی ذوق پرې خړوبه کېده اوله هغولاسوندونو يي پېنه اړولي ،چي د دوی د تعصب پخلي يي نه کاوو.

يايوشمېر نورو ويلي دي اويا وايي،چي پښتوهيڅ تاريخ نه لري ، نو ددې خبرې معنا خو داهم ده چي په اصل کي پښتون تېر تاريخ نه لري،نوکه چېرې پښتون تېرتاريخ لري نوبيا شک نه پيداکېږي چي څوک ووايي پښتو ژبه تاريخ نه لري ، داځکه چي د پښتنو ژبه پښتو ده !؟راځي چي له لرغوني تاريخ نه راواخله ترورووستيو پورې ،ددې خبروسپيناوی وکړوچي پښتوژبه اوپښتون تېرتاريخ لري اوکنه ؟ دويم داچي د غور جغرافيوي جوړښت نه يوازې د افغانستان لپاره ديوه موهم مرکزاو پلاز حيثيت درلود، بلکي له لرغوني تاريخه راواخله تر شېرمي هجري پېړی او بيا وروسته د اسلام د سپېڅلي دين تر خپرېدو پوري د پام وړ وو.

هغه پېښې، چي د شپږمي ليږديزې پېړی په مهال ماورالنهر، خراسان ،افغانستان او هند کي رامينځته شوې، د غور نقش ټاکوونکی اوموهم وو...لا کله چي عباسي خليفه ګانو او خوارزمشاهانو د نړيوال اسلام د رهبری ډېره په سنه ماتووله، غور د يوه ستر مورچل بڼه خپله کړې وه.

خو کله چي اسلام له ګڼو ستونزو سره سره په غور کي خپور شو، نو بيا دغور له هېواده د يوه سياسي مورچل په توګه استفاده کېده، چي د اسلام دين، په سيمه او په ځانګړې توګه د هند په نيمه وچه کي خپور کړي.

غور د تاريخ په اوږدو کي د جغرافيوی جوړښت ځانګړی دب دبه درلوده ولي له بده مرغه د غور په تړاو بشپړه څېړنه تر ډېره بريده نده شوې او که شوې هم ده، نيمګړې ده اوتوکمېزوناندرېبوناندرېزه کړی ده .

پخپله يو شمېر لرغون پېژندونکواو تاريخپوهانو، په دغه لړ کي طبقات ناصري جوزجاني او ابن اثير په دې ټينګار کوي، چي د غور تاريخي پېښو ته تر ډېره بريده لاسرسی ندی شوی او ګڼي پېښی لا تر اوسه تتي دي او د پام وړ څېړنه پرې نده شوې...!؟ ښايي ډېر لاملونه به وو، خو کومي انګېرني، چي د سرې پام ورته را اوړي پدې ډول دي:

۱- دا چي تاريخپوهانو ډېر اطلاعاتي توکي نه دي تر لاسه کړي، يو لامل يي لري والی وو، چي څېړونکو يوازې د نوم په يادولو اکتفا کړېده.

۲- بله خبره همدا کېدی شي، چي د غور جغرافيه دومره پېچلي او غرنی وه چي ورتګ ورته اسانه نه وو. کومي اسانتياوې چي اوس يي لرو په هغه وخت کي شتون نه درلود.

۳- تاريخپوهانو، چي کوم لاسرسی د غزنويانو، خوارزمشاهانو او نورو په اړه درلود، هغومره يي د غوريانو د تاريخ په اړه اطلاعات ندی تر لاسه کړي .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

۴- دا چې تر یوه بریده د غور غرنیزې جغرافیې د غور تاریخ برغمل کړي وه، د دې په څنګ کې تاریخپوهانو هم خپل مسؤلیت ندی ادا کړی، یوازې له دغه مسؤلیته، سرغړونه پدې نشي خلاصه کیدی، چې ټوله پړه دغور په طبعي جغرافیه اوجوړښت واچوو.
یاقوت حموي هم د دې خبرې پخلی کړیدی، چې د غور، غرنی جوړښت له ستونزو ډک دی، ډېرې سترې او لوې ابادۍ نه لري، یوازې د غور هغه ستره کلا، چې د «فیروز کوه» پنوم یادیږي او د غور واکمن به پکې اوسېد ل د ساري په توګه یادولی شو، چې د سام ټبر پورې اړه درلوده.» دلته د «سام» یادونه وشوه، غوره به وي، چې د دغه نوم پخلی وکړو او دېته تم شو، چې «سام» یاني څه؟ سا م :
د افغانستان په لرغوني تاریخ کې د یو شمېر لرغونو توکو او نومونو په لړ کې یو نوم هم د «سام» دی.
د یو شمېر شجرو او نیبرو پر بنسټ، ځنې روایتونه او انګېرنې پدې ټراو شتون لري، چې «سام» او «اسور» دوه ورونه وو او په لویه پېنه کې بیا «سروانیان» ګڼل شویدي.
د «سام» او «اسور» نه پرته په دغه ټبر کې د «سوري» نوم هم تر سترګو کېږي چې دی د روایتونو پر بنسټ د «سرپیال» زوی او د سروانې لمسي بلل کېږي.
د یوه بل استوروي تاریخ له مخې، هغه مهال چې سوري او سام «نهاوند» ته لاړل، د سام مشر ورور سوري د هغه ځای پاچا شو او سام د هغه سپه سالار وټاکل شو.
سوري په کوچنیوالي کې خپله لور د سام زوی ته ورکړې وه، ولې کله چې سام ومړ د لور له ورکړې نه یې ډډه وکړه او سوري غوښته چې خپله لور د «ملوک» پنوم یو چاته ورکړي، خو د ده لور د خپل کاکا زوي سره وتښتېده او «غور ته راغلل.» د «تاریخ سیستان» نوم ورکي لیکوال په دې اړه لیکلي دي چې» غورسام نریمان اباد کړیدي.»
په ځنو روایتونو کې حسین د سا م زوي بلل شوی دی، چې بشپړ نوم یې امیر حسین عزالدین دی.
د یوه بل روایت له مخې، وایي، هغه مهال چې فریدون د لور له خوا لمسی «منوچهر» چې یو ابلوڅی تنکی ځوان وه، د خپل زوی «ایرج» د کسات اخستو لپاره، چې د خپلو مشرانو ورونو سلم او تور له خوا وژل شوی وو، د سیستان یوه اتل ته چې «سام» نومېده د روزنې لپاره ورولیږه.
وروسته همدغه منوچهر له یوه لښکر سره د تور او سلم مقابلې ته ورغي او د هغو سرونه یې خپل نیکه فریدون ته راواستول ... د تاریخ سیستان څکه په دی اند دی چې د «غور بنسټ په اصل کې سام نریمان ایښی وي.» افغانستان درشاهنامه نومې کتاب کې راغلي دي ،«سام نریمان،دنړی پهلوان له سیستان نه غور ته راغی او له هغه ځایه بلخ ته لاړ، هلته یې واده وکړ،زوی پیدا سوچې دماشوم بدن سوراووبښتان یې سپین وو... هغه یې البرزغره ته یووړ اودسیمرغي په ځاله کې وروزه ... »۲۱۷ داچې فردوسي سام نریمان یادکړی،قاضي منهاج السراج «سوروسام »دوه ورونه بللي،دفریدون له اولادونوڅخه،چې یو یې امیر اوبل یې سپه سالار و ... سام نریمان دغور اوسیستان له نامتو کسانو څخه و.(هماغه اثر۲۹مخ ) رودابه، دکابلستان دمهراب شاه لور وه ، دالبرزپه غره کې روزل شوی « زال زر» دهندوکش له شمال نه راواووښت اودکابل رود په غاړه یې خیمه ودروله...د رودابې اودده ترمینځ ددوستې په نتیجه کې رستم وزیږېد،چې بیا دکابلې اوزابلې رستم په نوم نامتو شو .
سوري (سور) ،
د روایتونو له مخې د غور شهزاده درې زامن درلودل، چې د یوه نوم یې لودي وو. لودي هم د درې زامنو پلار شو، چې د یوه زوی نوم یې «سیانی» وو، چې د ده په ټبر کې «سوری» پیدا شو، چې په اصل کې د «سیانی» لمسی شي.
د دغه روایت له مخې سور (سوریان) د غور د تاریخي سیمې اصلي اوسیدونکي دي، چې په لویه پېنه کې پښتانه ګڼلی کېږي.ولې د تاریخ فرشته په اند سوري د «امیر بنجي» لمسی کېږي، چې د صفاري یعقوب لیث معاصر وو.
افغانستان در شاهنامه ۲۶مخ
که چېرې دا ومنو، چې سوري د امیر بنجي لمسي دی، خو طبقات ناصري لیکوال جوزجاني پدې اند دی، بنجی د نهاران زوی د درمیس لمسی، د وزن کړوسی او هغه د هین زوی بللی کېږي. هین د بهرام زوي د جحش لمسی، د حسن کړوسی چې هغه د ابراهیم زوي دی.
ابراهیم د معدل زوی د باسد لمسی د سداد کړوسی، چې هغه بیا د ضحاک زوی ګڼل شوی دی.
ضحاک (ازهي دهاکه)

دمخه مو هم یوه لنډه اشاره درلوده ،چې یو شمېر لرغونپوهان انګېري، چې د غوري شاهانو ستر نیکه ضحاک نومېده او په بامیانو کې یو اباد ښار چې په پخوا کې ودان وه د ضحاک ښار پنوم نامتو وو، چې ریښنه یې هم له همدې څخه اخستل شوېده.
د غوري شجرو پر بنسټ د دوئ نسب او نبیره تر ضحاکه رسیږي، ، چې له یما یا جمشید نه وروسته یې په اریانا کې سلطنت درلود .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د طبقات ناصري ليکوال پدې ټينګار کوي چې «بستام» د ضحاک زوی وو، چې په پای کې ضحاک د فريدون (فريتون) يا تريتون=ترى تونا) له خوا ونيول شو، بيا يې هند ته د «بستام» نيولو لپاره لښکر واستوو او بستام باميانو ته پناه راوړه او له هغه ځای غور ته راغی. سوري او سام د ده دوه نامتو ورونه، په نهاوند کې د واک او ځواک څښتن شول.
د اوستا د څرګندونو پر بنسټ «بيور اسپ اژي دهاکه» د ښايسته او ښکلي بخديم پر مدنيت بريداو يرغل وکړ.
دارمستتر د «زند اوستا» په دويم ټوک کې، چې په فرانسوي ژباړل شويدی، په دې ترڅ په ځانګړي ډول د «کرساسپه» په اړه څرګندونې کړيدي .
ځنې څېړنکي او لرغونپوهان بيا په دی اند دي، چې اوستايي «سريم» چې يونانيانو په سرکي هم هيرودوت پکت = پخت = پښت بللي دي، د افغانستان لرغوني اوسيدونکي دي .
له دې سربيره چې اوستا کې سريم په ښه يادونه شويده ، خو د ازهي دهاکه» يادونه بيا فردوسي په شاهنامه کې هم کړيده ، چې يو شمېر تاريخپوهان، ضحاک، سهاک (ساک) ګڼي، چې عربانو په تېروتنی ضحاک کړيدی.
په اوستايي متونو کې د «تور» پنوم هم ياد شويدی، چې په ټوله کې د «توران» يا تورانيانو له نوم سره هم تړاو لري. «د پښتنود نسب په باب دا ډول روايتونه بې اساسه ندي، ځکه چې ضحاک (سهاک، ساک) د پښتنو د توکم يو ډېر موهم توکی دي،چې همدغه روايت د پښتنو کلا سيکو مور خينوله خوا او هم د وروستيو ختيځ پوهانو له خوا تاييد شويدی» کله چې د اسلام لښکرې د دويم خليفه حضرت عمر (رض) په مهال پارس ته راورسېدې د قيس زوی احنف ته سپارښتنه وکړه چې يزدګرد ترېنه خلاص نشي. نو احنف بيا د خراسان ځمکه لاندې کړه. په دغه وخت کې د فردوسي او طبري په وينا ماهوی سوري د غور ساتونکي وو.
هوپوښتنه پيداکېږي ماهوي سوري څوک و؟، ماهوی سوری ،هغه د اوومې ميلادي پېړی يو پياوړی سيمه‌ييز واکمن اود ځينو افغان تاريخي سرچينو له مخې هغه د غور د سوريانو له کورنۍ سره تړاو درلود .
ماهوي سوری د ساساني پاچا دربيم يزدګرد په وروستيو ورځو کې مهم رول درلود، يزدګرد د عربو له فتوحاتو وروسته مرو ته وتښتېد، خو ماهوي ورسره مخالفت وکړ او د روايتونو له مخې د يوه زرندګري په لاس د يزدګرد د وژلو په پېښه کې لاس درلود .
ماهوي سوری د غور د پخوانی سوري کورنی له نوميالیو کسانو څخه بلل کيږي، خو د هغه اصلي سياسي پلازاومرکز مرو و، نه غور. . . ولې د هغه د غور سره تړاو په تاريخي سرچينو کې د بحث وړ دی، نو بايد په قطعي ډول ونه ويل شي چې هغه د ننې غور والي و،ولې اړيکې درلودې.

(نوربيا)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ